# کشته شدن رهبر تنظیم داعش و پیامدهای جهانی آن



دونالد ترامپ رئیس جمهور امریکا ضمن کنفرانس مطبوعاتی ای بتاریخ 27 اکتوبر ( 5 عقرب سال جاری) طور غیر مترقبه اعلان نمود که رهبر تنظیم داعش معروف به دولت اسلامی، توسط نیروهای ویژهء امریکا در شمال غرب سوریه کشته شده است. وی درحالیکه می خواست این حادثه را از حجم آن بیشتر مهم نشان دهد، با لهجهء تمسخرآمیز، بغدادی را بزدل و بازنده خطاب نموده گفت: درحالیکه می گریست و فریاد می زد، خودش را همراه با سه تن از فرزندانش در داخل یک تونل بسته، به واسطهء واسکت انتحاری ازبین برد. قبل ازین، رسانه های خبری امریکا به شمول نیویارک تایمز، سی ان ان و نیوزویک نیزخبرداده بودند که گمان می رود رهبر تنظیم داعش در ادلب سوریه ازبین رفته باشد.

با در نظرداشت اهمیت موضوع، تحلیل این هفته را به جزئیات این حادثه و پیامد های آن برای جهان و افغانستان اختصاص داده ایم.

## بغدادی چگونه شخصی بود؟

اطلاعات زیادی در رابطه به زندگی ابوبکربغدادی؛ به خصوص دوره نوجوانی و جوانی او دردست نیست. حتی بعد از آنکه رهبری داعش را به عهده گرفت، کمتر در انظار ظاهر میشد و مانند اسامه بن لادن و ایمن الظواهری رهبران سابق و فعلی القاعده، پیام های صوتی نیزصادرنمی کرد. جنگجویان تحت فرمان وی، هیچگاه از دیدار حضوری با

رهبر شان صحبت نکرده اند وحتی معروف است که حین ملاقات با اعضای تنظیمش نیز از روپوش استفاده می کرد و به همین علت هم به نام " شیخ نامرئی" ملقب گردیده بود.[1]

گفته می شود که البغدای متولد سال 1971 م در شهر سامراء( شمال بغداد) بوده و در وقت حمله امریکا به عراق ( 2003 م) دریک مسجد کوچک امامت داشته است. درحالیکه روایات دیگر مشعر بر آنند که او در زمان صدام حسین نیزفعالیت های نظامی داشته است. آنچه روشن است اینکه با رهبران القاعده در زندان بوکا ( جنوب عراق که بیشترفعالین القاعده در آن نگهداری می شدند) چهار سال را سپری کرده وطی این مدت از نزدیک با افکار تند روانهء القاعده آشنا شده است. او در سال 2010 م رهبری سازمان القاعده در عراق را به عهده گرفت اما با تا اخیر با ایمن الظواهری بیعت نکرد، کسیکه از وی می خواست تا روی عراق متمرکز شود و سوریه را بگذارد به جبهه النصره. واقعیت اینست که بعد از اوج گیری داعش درعراق وسوریه، بغدادی نسبت به ایمن الظواهری ازجایگاه بالاتری در میان هوخواهان القاعده در دنیا برخورداربود.

در اکتوبر 2011 م امریکا رسماً بغدادی را تروریست خواند و قیمت اطلاعاتی را که منجر به قتل یا دستگیری او شود؛ 10 میلیون دالر اعلان نمود، جائزه ایکه در سالهای بعد تا 25 میلیون دلار بالا رفت.

## بغدادی چگونه به دام افتاد؟

داستان به دام افتادن ابوبکر بغدادی بنابر روایت‌های چاپ شده واقعاً جالب است. مردیکه در اوج قدرتش ( 2014 م) 10 میلیون نفر از دو کشور عراق و سوریه را درمساحتی برابر با 100 هزار کیلومتر مربع تحت تسلط داشت، به اساس گزارش شبکهء انترنتی الجزیره؛ دوتن از معاونانش نقش مهمی در رسیدن به وی ایفاء نموده اند. یکی ازینها اسماعیل عیثاوی نام دارد که در فبروری 2018 م توسط استخبارات حکومت عراق دستگیرگردید. وی ضمن اعترافاتش، معلومات مهمی را در مورد چگونکی نجات بغدادی از کوششهای دستگیری توسط نیروهای امنیتی طی سالهای متعدد، تقدیم استخبارات عراق نمود.[2] عیثاوی اعتراف نمود چگونه بغدادی بیشتر اوقات صحبت های استراتیژیک با قومانداناتش را در داخل موترهای سرویس دائرمی نمود که مملوء از سبزیجات می بود. یکی از مسئولین استخبارات عراقی می گوید که عیثاوی همچنان معلومات با ارزشی را دررابطه به کیفیت نقل و حرکت و اماکن اختفاء بغدادی درخدمت شبکه های استخباراتی قرارداده اسمای پنج تن ازمعاونین ویرا( به شمول خودش) و جاهایی را که در آن بغدادی را می دیدند، دراختیار استخبارات قرار داد. معلومات حاصله از اعترافات عیثاوی، بعداً با استخبارات کشورهای دیگر؛ از جمله استخبارات مرکزی امریکا سی آی، شریک ساخته شده بود. بدون شک معلومات عیثاوی نقش مهمی در دستگیری

---

[1] https://www.bbc.com/persian/world/2014/06/140612_an_iraq_isis_profile_abu_bakr_al_baghdadi,
ابوبکر البغدادی رهبر دولت اسلامی عراق و شام کیست؟

[2] https://www.aljazeera.net/news/politics/2019/10/28/%D8%A7%D9%84%D8%B9%D8%B1%D8%A7%D9%82-%D8%B3%D9%88%D8%B1%D9%8A%D8%A7-%D8%A7%D9%84%D9%88%D9%84%D8%A7%D9%8A%D8%A7%D8%AA-%D8%A7%D9%84%D9%85%D8%AA%D8%AD%D8%AF%D8%A9-%D8%A3%D8%A8%D9%88-%D8%A8%D9%83%D8%B1-%D8%A7%D9%84%D8%A8%D8%BA%D8%AF%D8%A7%D8%AF%D9%8A-%D8%AA%D9%86%D8%B8%D9%8A%D9%85-%D8%A7%D9%84%D8%AF%D9%88%D9%84%D8%A9
شاحنات الخضار وملايين الدولارات.. معلومات وعناصر في قصة قتل البغدادي

بغدادی نسبت به جاسوسانی داشت که شب و روز در تعقیب وی سرگردان بودند. عیثاوی که دارای مدرک دکتوراء در علوم اسلامی می باشد، مانند بغدادی در سال 2006 م توسط نیروهای امریکایی دستگیرو بعد ازچهارسال دوباره از زندان آزاد گردیده است. قرار معلوم، دراواسط سال 2019 م کشف گردید که بغدادی درادلب حضور دارد و همراه با خانواده و سه تن از معاونین مقربش، به صورت مسلسل ازیک قریه به قریهء دیگر درحال انتقال است. ابو سلیمان خالدی معاون دیگربغدادی کسی بود که بعد از عیثاوی معلومات مهمی را دراختیارمقامات عراقی قرارداده، اما نقش کلیدی را کسی ایفاء نموده که تا حال اسمش افشاء نگردیده است. طبق گزارشات وارده، این شخص در ابتداء از همکاران نزدیک بغدادی بوده اما بعداً به علت کشته شدن نزدیکانش به دست عناصر داعش، در موقف مخالف قرار گرفته و به همین اساس توسط استخبارات نیروهای دیموکراتیک عراق که اکثرآن کردها می باشند، بعنوان جاسوس علیه بغدادی گماشته شده و ازهمین طریق به استخبارات مرکزی امریکا (سی آی ای) ارتباط یافته است. هرچند مقامات امریکایی تا حال اعتراف نه نموده اند، اما معلومات همین شخص بالآخره منجر به شناخت محل سکونت اخیر بغدادی در ادلب و اجرای عملیات بالای وی گردیده است. مطابق آخرین معلومات؛ بغدادی از 6 ماه به این طرف در قریهء باریشا در ادلب سوریه به شکل مخفیانه زندگی داشت و در همانجا از بین برده شد.

## داعش بعد از مرگ رهبر

درحالیکه حادثهء قتل بغدادی هنوز سرخط اخبار وتبصره های اخبار و جرائد در دنیا می باشد، سوال مهمی اذهان را به خود مشغول ساخته و آن اینکه چه کسی بعد از مرگ بغدادی، در رائس تنظیم داعش قرار خواهد گرفت و آیا فعالیت‌های این گروه بعد از مرگ آن دوام خواهد یافت یا خیر؟ هرچند مرگ بغدادی ضربهء محکمی برای تنظیم داعش به حساب می رود، ولی همانطوریکه القاعده با ازمیان رفتن اسامه بن لادن در 2011 م ازبین نرفت، داعش نیز با از بین رفتن بغدادی از بین نخواهد رفت. تنظیم داعش از همان آغاز، برخلاف گروپ های مسلح دیگر، از شیوهء عدم مرکزیت در نحوهء ادارهء خویش استفاده نموده است. خاصتاً بعد ازاپریل 2019 م که ابوبکر بغدادی ضمن کلیپ ویدیویی، از سپردن صلاحیت هایش به یک کمیسیون خبرداد. قرار گزارش ها، بغدادی درداعش نقش معنوی و سمبولیک داشت و در پلان گزاریها و تصامیم مباشر، نقشی نداشت.

پنج روز بعد از کشته شدن بغدادی؛ شخصی غیرمعروف به نام ابوابراهیم هاشمی قریشی به عنوان جانشین وی معرفی گردید، درحالیکه چنین شخصی در رهبران داعش وجود نداشت. شاید این شخص همان عبدالله قرداش؛ عراقی ترکمن تبار و از نزدیکان رهبر داعش باشد که بسیاری ها گمان داشتند به حیث نائب بغدادی معرفی خواهد شد و شاید هم اسمی کاملاً وهمی باشد، چنانچه تعدادی دیگری به این باور اند. به هرحال، داعش مجبور خواهد بود طی ایام آینده تفصیلات بیشتری درین مورد ارائه نماید.

حسن ابو هنیة محقق در امور جماعت های اسلامی به این باور است که تنظیم داعش با وصف شکست درعراق و سوریه و کشته شدن رهبر آن؛ دارای نیروی ذاتی بوده و امکانات تقویهء آن در آینده موجود است. وی به این باور است که داعش در 8 کشورآسیایی و افریقایی حضور فعال دارد، درحالیکه وزارت دفاع امریکا؛ فعالین داعش را میان 14 تا 18

هزار، تخمین می نماید. به گزارش الجزیره، خانم دانا ستراول یکی از مسئولین سابق پنتاگون به این باور است که "از میان رفتن بغدادی به معنی پایان داعش نخواهد بود، چنانچه ازبین رفتن اسامه بن لادن به معنی پایان القاعده نبود." [3]

## پیامد های مرگ بغدادی

بغدادی درحالی کشته شد که قوت داعش در منطقهء عربی به پایان ترین سطح آن رسیده و هزاران تن از جنگجویان سابق آن دراردوگاه های عراق و سوریه اسیرمی باشند و کمتر در عناوین خبری از آن ذکری به عمل می آید. اگر ضرورت های سیاسی دونالد ترامپ رئیس جمهوری امریکا نبود، شاید کشته شدن وی برای هیچ یک از کشور های منطقه دراولویت نبود. شاید دونالد ترامپ بواسطه اشاعهء این خبر از یک طرف خواسته خود را هم پلهء سلفش؛ باراک اوباما نشان دهد که با از بین بردن اسامه بن لادن در 2011م افکار عامه امریکاییان را در مسیر انتخاب دوباره خودش بعنوان رئیس جمهور امریکا بسیج نمود. درحالیکه میان حادثه کشته شدن بن لادن تا کشته شدن بغدادی، تفاوت های زیادی وجود دارد که این تفاوت هارا خود امریکاییها قبل از دیگران احساس می نمایند. مجلهء نیوزویک مقولهء جان هاروارد از تلویزیون سی ان بی سی چنین نقل می کند: " با وصف اینکه مرگ بغدادی حادثهء ایجابی می باشد، اما محتمل نیست که این حادثه سبب ایجاد تحول بزرگ درراى عام امریکاییها در ارتباط به سیاست های رئیس جمهوردونالد ترامپ گردد." نویسندهء امریکایی سیان اوگرادی گامی پیشتر نهاده و با جسارت تمام میگوید: " مرگ بغدادی لزوماً به معنی تبدیلی دنیا به جای امن تری نخواهد بود؛ درحالیکه دونالد ترامپ درسلطه باقی بماند".

اما روزنامه تایمزبریتانیایی غرب را هشدار می دهد که شاید مرگ بغدادی باعث انتشار بیشتر خشونت در سطح دنیا گردد، و می افزاید که ممکن است ازین به بعد، گروه های مسلح وابسطه به داعش، درگوشه و کنار جهان با اسلوب جدید جنگ های شان را ادامه دهند. روزنامه دراخیر می نویسد: تازمانیکه مظالم عمیق در عالم عربی وجود داشته باشد، امکانات بوجود آمدن تنظیم های تروریستی جدید وجود خواهد داشت. روزنامه علت بوجود آمدن داعش را در سیاست های سرکوب گرانهء رژیم های استبدادی شرق میانه و معاملهء زشت شان با مخالفین سیاسی، خلاصه می کند. واما فعالیتهای شاخهء خراسان تنظیم داعش که از چند سال به اینسو در افغانستان دوام دارد، شاید از کشته شدن بغدادی زیاد متأثر نگردد، زیرا که این شبکه استقلالیت خود را داشته و بیشتر تابع اوضاع منطقوی است، تا رهبری مرکزی آن در عراق و سوریه. طی ماه های اخیر، برخورد های خونینی بین افراد مسلح مربوط به داعش و جنگجویان طالب در مناطق مختلف افغانستان به خصوص ولایات شرقی کشور بوقوع پیوسته که سبب وارد شدن خسارات سنگین و باعث عقب نشینی های این گروپ از بعضی مناطق گردیده است. اما آیندهء این گروه بیشتر بستگی خواهد داشت به سیاست های آینده ایالات متحده امریکا در افغانستان و سرنوشت مذاکرات صلح که اینک بعد از یک رکود، نشاط دوباره یافته است.

[3] https://www.aljazeera.net/news/politics/2019/10/28/%D8%A3%D8%A8%D9%88-%D8%A8%D9%83%D8%B1-%D8%A7%D9%84%D8%A8%D8%BA%D8%AF%D8%A7%D8%AF%D9%8A-%D8%AA%D9%86%D8%B8%D9%8A%D9%85-%D8%A7%D9%84%D8%AF%D9%88%D9%84%D8%A9-%D8%B9%D8%A8%D8%AF-%D8%A7%D9%84%D9%84%D9%87-%D9%82%D8%B1%D8%AF%D8%A7%D8%B4
عراقي تركماني.. تعرف على الخليفة المتوقع للبغدادي

# شانگهای همکارۍ سازمان اتلسمه ناسته او پر افغان سوله يې اغېزې




د شانگهای همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو استازي د عقرب مياشتې په ۱۰مه او ۱۱مه نېټه، د دغه سازمان د لومړيو وزيرانو په 18مه غونډه کې د ازبکستان په مرکز تاشکند کې سره راټول شوي ؤو. د افغانستان اجرائيه رئيس ډاکتر عبدالله عبدالله هم د يوه پلاوي په مشرۍ، په دې غونډه کې گډون کړی ؤو.

د دغه سازمان مخينه د افغانستان له حالاتو سره مستقيمه اړيکه لري او په وروستيو اتو کلونو کې هم د افغانستان په لور د دغه سازمان پاملرنه، اندېښنې او لېوالتيا زياته شوې ده. په سيمه کې د دغه سازمان ارزښت ته په کتلو سره افغانستان هم تېر کال د دغه سازمان د بشپړ غړيتوب د ترلاسه کولو غوښتنه کړې وه.

د افغانستان اجراييه رئيس د دغه سازمان د وروستۍ غونډې په څنډو کې د روسيې، قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان او ازبکستان له لومړيو وزيرانو، د ايران د جمهور رئيس له لومړي معاون او د هند د دفاع له وزير سره هم ملاقاتونه درلودل.[4]

د شانگهای همکارۍ سازمان د لومړيو وزيرانو ۱۸مې غونډې ته په کتو سره، د شانگهای غړو هېوادونو رول په افغان سوله کې څه دی؟ او په ټوله کې د ياد سازمان د غړو هېوادونو رول د افغان کشالې په دخيلو اړخونو باندې څه دی؟ په اړه يې دلته شننه شوې ده.

[4] http://csrskabul.com/?p=1841-د شانگهای همکارۍ سازمان او پر افغانستان يې اغېزې

## د شانگهای همکارۍ سازمان لنډه پېژندنه

شانگهای همکارۍ سازمان په ۲۰۰۱م کال کې جوړ شوی، موخه يې د غړيو هېوادونو ترمنځ په امنيتي، سياسي، تجارتي، اقتصادي، او يو شمېر نورو برخو کې همکارۍ ته وده ورکول دي.

همداراز د شانگهای همکارۍ سازمان د سخت دريځو اسلامپالو ډلو له خوا د راپورته کېدونکو گواښونو د مخنيوي او له افغانستان نه د نشه يي توکو د قاچاق له منځه وړلو په موخه جوړ شوی.

د شانگهای د غړو هېوادونو مساحت د آسيا او اروپا په سلو کې يو شپيته خاوره او د وگړو د شمېر له مخې د نړۍ دويمه برخه وگړي په دې هېوادونو کې ژوند کوي.[5]

اوس مهال اته هېوادونه (چين، قزاقستان، قرغزستان، روسيه، تاجکستان، ازبکستان، هند او پاکستان) د ياد سازمان دايمي غړي، افغانستان، بېلاروس، ايران او د منگوليا هېوادونه يې د څارونکو؛ او ازربايجان، ارمانيا، کمبوډيا، نيپال، ترکيه او سريلانکا هېوادونه يې د خبرو شريکانو په حيث پيژندل کېږي.[6] د يادولو وړ ده، چې افغانستان په ۲۰۱۲م کال د چين په مرسته د دې سازمان  څارونکی هېواد شو.[7]

## د شانگهای همکارۍ سازمان د لومړيو وزيرانو ۱۸مه غونډه

د افغانستان اوسنيو حالاتو  ته په کتلو سره د شانگهای د همکارۍ سازمان ښکېلتيا د افغان سولې پروسه کې اړينه ده، له همدې کبله د ياد سازمان غړي هېوادونه د افغان سولې پروسه کې د خپل رول د درلودو له مخې د ياد سازمان پاملرنه هم د افغانستان په لور زياته شوې له همدې ځايه ده، چې دغه کنفرانس د افغانستان لپاره مهم ؤو. د يادې ناستې ډېره پاملرنه د شانگهای همکارۍ سازمان په داخلي جوړښت او کارونو باندې ؤو، او په ۲۰۱۸م کال او د ۲۰۱۹م کال په لړ کې چې کوم کارونه د ياد سازمان له لوري تر سره شوي ؤو، هغه وارزول شول او د ياد سازمان د ۲۰۲۰م کال په بودجه او پلان باندې بحث وشو همدارنگه ياد سازمان له نورو نړېوالو ټولنو سره د گډې همکارۍ په موخه تفاهم‌نامې هم امضاء کړې، او په ياده ناسته کې په سيمه کې د چاپېريال په برخه کې گټوره همکاري، تروريزم پر وړاندې گډه مبارزه، د نشه يي توکو قاچاق، د انسانانو قاچاق، د پيسو ناقانوني حوالې، د سپکو وسلو ناجائزه سوداگري، اقتصادي وده، ترانسپورتي همکاري او صنعتي ودې هم بحث وشو.[8]

**په اقتصادي برخه کې**: په اقتصادي برخه کې بايد غړي هېوادونه په خپلو منځونو کې تجارتي راکړې ورکړې زياتې او د غړو هېوادونو ترمنځ ماليه کمه کړل شي، همدارنگه غړي هېوادونه په خپلو سيمو کې د هغو طبيعي حوادثو په هکله

---

[5] https://en.wikipedia.org/wiki/Shanghai_Cooperation_Organisation

[6] http://eng.sectsco.org/secretariat/

[7] http://eng.sectsco.org/secretariat/

[8] https://pa.azadiradio.com/a/30249639.html - عبدالله عبدالله: سولې ته د رسېدو لپاره بايد د خلکو غوښتنې په پام کې ونيول شي

معلومات شریک کوي، چې د دوی ګاونډیان اغېزمنوي، د هېوادونو د مشرانو او مسؤولینو ترمنځ د معلوماتو تبادله ترڅو په هېواد کې نړیوال توریزم ته وده ورکړي او د دغو مسؤولینو ترمنځ همغږي رامنځته کړي، د حوادثو د مدیریت په هکله له یو بل سره خپلې تجربې او معلومات شریکول او خپلمنځي ګډې پروژې پر کار اچول تر څو په سیمه کې د اقتصادي ودې د زیاتوالي سبب شي.[9]

**د چاپېریال په ډګر کې همکاري:** غړي هېوادونه به په ګډه سره د چاپېریال ساتنې په برخه کې نه یوازې دا چې پروګرامونه به جوړوي بلکې پلي کوي به یې هم، په تېره بیا په سرحدي سیمو کې.

**تروریزم پر وړاندې ګډه مبارزه:** غړي هېوادونه باید د خپلو ملي قانونو له مخې د تروریزم د له منځه وړلو لپاره په خپلو کې همکاري وکړي او د سخت دریځو او بېلتون غوښتونکو عملونو مخنیوی به کوي.

**نشه یي توکو پر وړاندې ګډه مبارزه:** غړي هېوادونه به له یو بل سره د نشه یي توکو د ختمولو، انساني قاچاق، د پیسو ناقانونه حوالې او د نورو زیان رسونکو موادو پرخلاف اقدامات کوي. غړي هېوادونه باید د تمدنونو د جګړې پرخلاف له یو بل سره د تمدنونو ترمنځ خبرو اترو ته وده ورکړي.

**سیاسي او نظامي:**د تلپاتې ثبات او په نظامي-سیاسي ډګر کې خپلمنځي اعتماد پیاوړي کول

## د غړو هېوادونو له مشرانو سره ناستو ته کتنه

د شانګهای همکاری سازمان په اتلسمه ناسته کې د افغانستان په استازولی د ملي یووالي حکومت اجرائیه رئیس ډاکتر عبدالله عبدالله برخه درلوده، یاده ناسته چې دوه ورځې یې دوام وکړ د حکومت اجرائیه رئیس د دې ناستې تر څنګ د سازمان د غړو هېوادونو له مشرانو سره هم ناستې درلودې او په یادو ناستو کې په لاندې ذکر شویو موضوعاتو باندې بحث وشو:

- **د سیمې د هېوادونو څخه د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د سیمه‌ییزې اجماع د رامنځته کولو غوښتنه:** د افغان حکومت اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله چې په دغه غونډه کې یې د افغان دولت په استازیتوب ګډون کړی ؤو ، وویل، چې د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره د یوې سیمه‌ییزې ستراتیژۍ او کړنلارې ته اړتیا ده تر څو وکولای شو، چې په ګډه د ترهګرۍ پر وړاندې مقابله وکړو، همدا اوس افغانستان له دې ترهګرۍ سره لاس او ګرېوان دی نو له همدې امله د شانګهای د همکاریو سازمان سیمه‌ییزو هېوادونو هوساینه د افغانستان سولې او ثبات پورې تړلې ده. نو لازمه ده، چې د سیمې د ګډو ستونزو د حل لپاره په ګډه د عادلانه سوله‌ییزې او باعزتې کړنلارې له مخې د جګړې ختمولو ته هڅه او کار وکړو.[10]
- **له روسیې سره د دوه‌اړخیزو اړیکو پراختیا:** د افغانستان د ملي یووالي حکومت اجرائیه رئیس د روسیې له صدراعظم سره د دې غونډې په څنډه کې لیدلي دي.[11] دغې لیدنې درې مهمې برخې لرلې :**لومړی:** د

---

[9] https://8am.af/pashto/shanghai-cooperation-org/ د شانګهای د همکاری سازمان پراختیا مومي
[10] https://aric.adb.org/initiative/shanghai-cooperation-organization

[11] https://thediplomat.com/2019/06/the-shanghai-cooperation-organization-a-vehicle-for-cooperation-or-competition/- The Shanghai Cooperation Organization: A Vehicle for Cooperation or Competition?

افغانستان او روسيې د دوه‌اړخيزه اړيکو پياوړتيا؛ **دويم:** د افغانستان د سولې پروسه؛ **دريم:** نشه‌يي توکو پر وړاندې مبارزه.

- **د سيمې له هېوادونو سره اړيکې :**د دې ترڅنګ د دغه کنفرانس په څنډو کې ډاکتر عبدالله د سيمې د يو شمېر هېوادونو له لومړيو وزيرانو سره هم وليدل او د اړيکو پر نږدې کولو يې خبرې وکړې. د ازبکستان لومړی وزير کابل ته راوبلل شو. له هند او ايران سره پر امنيتي او اقتصادي همکاريو خبرې وشوې او همدا راز له تاجکستان او قزاقستان سره هم د اړيکو په رغولو خبرې وشوې.

## د شانګهای سازمان د غړو هېوادونو رول په افغان سوله کې

په تېرو اتلسو کلونو کې د بېلابېلو خواوو په ګډو همکاريو، شانګهای همکارۍ سازمان په نړۍ کې د همکاريو داسې جامع او سيمه‌ييز سازمان ګرځېدلی، چې د پراخوالي او نفوس له لحاظ د نړۍ په سطحه له ټولو سازمانونو لوی دی. د دغه سازمان د غړو هېوادونو عمومي اقتصادي حجم او نفوس په جلاجلا توګه د نړۍ ۲۰ سلنه او ۵۰ سلنه جوړوي. له ملګرو ملتونو او نورو نړېوالو او سيمه‌ييزو سازمانونو سره يې پراخې همکاريزې اړيکې ټينګې کړې دي او نړېواله اغېزه يې لاپسې پراخه کړې. او د ياد سازمان ټول غړي هېوادونه د افغانستان په جګړه کې په ټولو ښکېلو اړخونو نفوذ لري، نو له همدې امله ياد سازمان کې ځيني شامل هېوادونه کولای شي چې د افغان سولې په پروسه کې مثبت رول ولوبوي، چين د خپل اقتصادي نفوذ د لرلو په اساس کولای شي، د سيمې هېوادونو [پاکستان] باندې فشار راوړي تر څو هغه ډلې، چې يو ډول نه يو ډول په افغان کشاله کې رول لري خبرو مېز ته کېنوي، په ټوله کې ياد سازمان دا توانايي لري چې په نړېواله سطحه امريکا ( د افغان جګړې د پيل اصلي لوری) ته ووايي، چې افغان کشاله د خبرو له لارې حل کېدلای شي او د خبرو له لارې په حل کې يې موږ هم همکاري کؤو او که چېرې د جګړې له لارې حل غواړی په هغه برخه کې يې موږ ور سره همکاري نه کؤو، نو که چېرې ياد هېوادونه په رېښتيا هم دا ډول وغواړي، امريکا دلته د ډېرې مودې لپاره نشي پاتې کېدی.[12]

## پايله

د شانګهای همکارۍ سازمان د لومړيو وزيرانو ۱۸مه ناسته داسې مهال تر سره کيږي، چې د افغانستان د ولسمشريزو ټاکنو پايلې نه دي معلومې شوې او يو ځل بيا په سيمه‌ييزه او نړېواله کچه د سولې د خبرو د پيل غوښتنه شوې.

اروپايي ټولنې، په مسکو کې د افغان سولې په اړه تر سره شوې څلور اړخيزه ناسته او په نېږدې راتلونکې کې د چين په کوربتوب د بين الافغاني ناستې تر سره کېدل هغه څه دي چې ورسره يو ځل بيا په افغانستان کې د تل پاتې سولې راتلو لپاره هيلې راټوکېدلې دي.

ياد سازمان په افغان کشاله کې په ښکېلو لوريو باندې نفوذ لري اميد دئ چې دوی په دې برخه کې له خپل نفوذ نه مثبتې ګټې اخستنې سره په افغانانو باندې د دې تپل شوې جګړې د ختمولو هڅه وکړي او د افغان سولې لپاره، چې

[12] https://ccdcoe.org/organisations/sco/

کومې هڅې اوس روانې دي د دوي په همکارۍ دا تېزې کړل شي، تر څو د دوی په مثبت رول اداء کولو سره وکولای شو، چې د افغان سولې د راتلو او جګړې د ختم لپاره سیمه‌ییزه اجماع رامنځته کړو.

همدارنګه افغان سیاستوالو ته په کار ده، چې د ولسمشریزو ټاکنو پایلې هم زر تر زره اعلان او وړونکی ټیم دې د نوي حکومت د تشکیل لپاره کوټلي ګامونه واخلي او بایلونکي ټاکنیز ټیمونه دې ګټونکي ټیم سره د نوي حکومت په تشکیل او د افغان حکومت له لوري د سولې د پروسې په پیل کې خپله هراړخیزه همکاري وکړي؛ تر څو په دې سره وکولای شو، چې خپل نړېوال موقف قوي کړو او په افغانستان کې یوې تل پاتې سولې ته ورسیږو.

**ارتباط با ما:**
**ایمیل:** csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com
**ویب‌سایت:** www.csrs.com -- www.csrs.af
**شمارۀ تماس دفتر:** 202564049 (+93) - 784089590 (0) 93 +

**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.**